مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهاند دوکتور م.ا. زیار ۲۰۱۸/۱۰/۱۵

# پښتو پښويه (دستور، ګرامر) او د زدکړې نوې لارې چارې
# ګړپوهيزې ( صرفي) پايلې (Morphological Endings)

۱ -نوماوړوني پايلې: سړی-ي، ښځه-ې؛هلک-ان، نجلۍ-نجونې.مور-ميندې..
۲ -کړاوړوني: خور-م خور-و،خورې-خورئ-ي...

پايله چې وييزاومانيز عربي انډول يې (خاتمه) ده او په دويمه مانا يې عربي انډول (نتيجه) ده، خو دغلته له سهي تخنيکي (ترمينالوژيکي) پلوه يوه ژبپوهنيزه اوبيا ګړپوهييزه (صرفي) او وييرغاونيزه نومَونه ده چې له انګرېزي (Ending)او الماني (Endung) سره اړخ لګوي.

د(ماريو-پای)سينديې داسې راپېژني :

(۱)په توليز ډول، پايله د يوه ويي روستي غږ (sound) يا څپې (syllable) ته وايي چې له آره ناخجن وي او له اړوند ويي (نوم، کړ) سره خجنېږي.

(۲) په ځانګړي ډول، پايله هغه اوړوني (ګرداني) روستاړی(a flexional suffix) دی چې د نوم اوړون او کړاوړون د بېلابېلو ګرداني اړخونو (وجهو)او پر دغو صر في اړخونو او لړوډېر نحوي تړاو ښکارندويۍ لپاره په نوم اوکړ يايې ريښې او ستې پورې نښلي، هغه هم لړوډېر د يوه ←ترخپلواک يا څپې په منځتاړۍ سره (همداراز د وييرغاونې په تړاو- زيار).

د ماريو-پای په اند په ډېرو ژبو کې د کړاوړون اړونده وګړپايله(personal en- ding) ،داروپايي ژبو پر خلاف تولواله (ملکيت-اضافت) هم څرګندوي او بېلګې يې هم فېنو-اوګريک (فېنلېنډي او هنګري) او سامي (عربي -عبري) هغه راوړي؛ خو ترکوم ځايه چې موږ ته ښکاره ده،عربي او زموږ آرياني دانومځري (ضميرونه) رانغاړي او ځايناستی کېدای يې شي ،له همدې کبله يې (متصل ضميرونه) بللی، لکه پښتو وګړپايلې په دې پراديګما کې:خور-م/خور-و/ خور-ې/خور-ئ)/ خوري ؛ چې په تېرمهال کې يې کمزوري نومځري (منفصل ضميرونه) ځايناستي کېږي، لکه په دې اوړون کې: و-مې- خوړ/ و-مو خوړ، خوړ-مې/خوړ-مو... [د لا پوهاوي لپاره: پښويه ۱۶۳ ]

د نومپايلې پېژندنښه يا پايله له توليز هندواروپايي ژبني قانون سره سم د دغو دوو نورو (يانې کړاوړون او وييرغاونې) هغو غوندې يو خپلواک (واوېل) يا څپه ده چې تر ډېره په يوه نوم (څيز نوم، ستاينوم، شمېرنوم او يا نومځري)،يايې په ستې پورې نښلي؛يانې که اړوند نوم، کړ يا ويی خپلواک-پای اويا غبرګغږ -پای وي،دغه دواړه توکه يې غورځي او پايله يې په ريښې يايې ستې پورې نښلي،که نه په بېواکپای پای هغو پورې اړوندې پايلې سيده نښلې،او←ترخپلواک ياڅپې ته هم همېشه اړتيا نه لري،د بېلګې په توګه، کړواله(-م پايله)، لکه په (خور-م) ∂- ترخپلواک راخپلوي، يا له (ل-) سره د يوې څپې په بڼه، لکه په وخوړ-لم. ياد ړوونک تر څنګ په وخوړله.کې ؛ خو (خور-و u دانه؛که هغه د ګنې له اړخه وي، لکه: سړی-سړي، منه-منې، که د نوړی (جنس) له اړخه، لکه: سور-سره، سپين- سپينه او يا د پېر(حالت)،هغه هم يا د←ارګاتيف له کبله،لکه: (ما-تا-ده-دې...؛ زمر-ي، زرمين-ې...) اناروخوړ، دسربل-وستربل له کبله، لکه: د منې خوړل ګټه لري،د زرکې غوښه خوندور-ه ده، له زمر-ي ځان ساته،يا د بلنې (ندأ) له کبله ، لکه (يه) مور-ې،پلار-ه، ورون-و !

نومپېر پايلې پرخپل وار دوه رازه دی (← پښتو پښوييزنومپېرونه) :

(۱) پښتو آر يا سيده نومپېر(اصلي حالت ) يا (direct case) چې پر خپله آره بڼه وي او په دې توګه يې پېژندنښه يا پايله صفر ده، لکه: (ورى) او (ژوی) په دې غونډلو کې: ورى واښه خوري، ژوی غوښه خوري



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په څير و لولئ

(۲) د یوه نوم اوښتی پېر یا مغیره حالت (Oblique case)د نوم هغې بڼې ته وایي چې په یوه غونډله یامتن کې یې دنحوي دویې(قاعدې)پر بنسټ راخپلوي، په نو رو ټکو، خپله آره بڼه بدلوي او له دغه جو لیز بدلون سره پخپله هغه نوم (اوښتي نوم) بلل کیږي،لکه په دې غونډلو کې: وري (وابنه وخوړل)او ژوي (غوښه وخوړه.
مانا یې داچې:
د نورو ژبوغوندې په پښتو کې اوښتي نومپېرونه  تر ډېره د روستاړو بڼې را خپلوي او په دې ډول یې اوښتي نومپېر پایلې بولو،لکه(-ي) په (وري) او (ژوي) کې یا-زوَر (a-)په (زمر-ه! او په (مین-ه!) کې. دغلته-ي (i-) پایله په تېرمهال کې د کړندپېر (فا علي حالت) یا (nominative case)ښکار ندويي کوي او زوَر (a-)پایله د بلنپېر (ندا ئیه حالت) یا.(vocative case)
داهم یادوړ ده چې اوښتی پېر په بنسټیز ډول له ځیزنوم او یایې له وګړنومځري سره تړاو لري او دبدلون لامل کیږي یې، او دوه نور نومډولونه (ستاینوم او شمېرنوم) یې د ټاکندویو (modifiers) په توګه ورسره هممهاله بدلون مومي، لکه په دې غونډلو کې:
یوه ښایستوکي واړه وري یا ورکي وابنه وخوړل؛ یوه کمزوري زاړه ژوي غوښه وخوړه؛ هر راز نغوتنومځری (اشاري ضمیر) چې له ځیزنوم سره یوځای راځي، هم  ورته اوښتی پېر راخپلوي. لکه،دې-دغه (-∂)-هغه(-∂)-هوغه (-∂) وري وابنه ړوونک... ؛
له پاسنیو درو زورپای نومځرو(دغه-هغه- هوغه) پرته  نورواوښتي نومونه که یوه زورکي (-∂) پایله (ending) راخپلوي هم،خوهممهاله ورسره منځ-خپلواک ونج* ملګرتیا کوي،لکه د (ورون) اوښتې بڼه) ورانه (wrĀn-∂ کې چې په دغه  نوم کې  پر زورکي  پایلې سربېره منځنی لنډ-و (-u-)هم پرالف (ā) اوښتی. نورې ورته بېلګې: لړمون-لړمانه، پښتون- پښتانه،شپون-شپانه،یون- یانه،مېلمه-مېلمانه، ووړ-واړه،موږ-ماږه،زوړ-زاړه،کوڼ-کاڼه،کهول-کهاله،خوږ-خواږه...[ پښویه ۹۲-۹۶]
* منځ-خپلواکونج)  تر ډېره په اروپایي ژبپوهنیزو سیندونوکې  الماني (Ablaut) بلل کیږي،او د امریکایي ماریو-پای سیندګي (internal vocal change) مانا کړی،خو زموږ انډول یې جاج (مفهوم) ښه ترا راځرګندوي.
په وییرغاونه کې بیاواوېلي غورځن  او ډېرن زیات پېښیږي،غورځن،لکه: په مېړی +تون = مېړ (a-)تون؛ پوهنه +تون= پوهنتون؛ ژوی+بڼ= ژوبڼ...؛ (- a )کې؛ ډېرن، لکه په) کور – a -نی(او) کور- a-نی(کې. دغلته د تړخپلواک (thematic vowel) په توګه راغلی ،نه د(-ی) بلونج په توګه ← (پښویه ۱۶۳،۱۵۴؛ وییپو هنه۵۹) .

بېدودي (استثنأ) پکې داچې اوږد-و (-o-) منځینومونه او ستاینومونه، پر پایله سربېره له← منځ-خپلواکونج (Ablaut)سره هم مخ کیږي،لکه: پاس راغلې بېلګې (پښتون-پښتانه، خوږ- خواږه... ).
دا هم بویه یاده شي چې د غورځن (حذف)او ډېرن) افزایش (addition) قانون تر ځنګ←منځ-خپلواکونج (Ablaut)داځه ناځه په درو واړو ټولیو (کټېګوریو)، یانې نوماوړون، کړاوړون او وییرغاونه کې هم چلیږي؛ په کړاړوړون کې بیا د کړ ریښې یا کړستې ترمنځ  لږوډېر له زورکی تړخپلواک  سره یو (-ل)  هم ملتیا مومي اوځپه ورسره رغوي،لکه په وخوړ-لم. یاد (وخوړه) تر ځنګ وخوړله؛ په تېره د ما ناونج له کبله،لکه بي بي سي په (ښځه ومړه)کې یا(ده ویاله وکینه)چې باید (ومړ له) او (وکینله) وویل شي،دودیزوال دغه (-ل-) د ((مصدر پاتشوني)) انګېري؛ نا بشپړ تېرمهال  (استمراري ماضي) پر زورکي پا یلې سربېره منځ- خپلواکونج (Ablaut) هم راخپلوي،لکه په دې بېلګوکې:ورغاوه،ونمانځه،وبا له...؛  هرګوره، ځپیزمختاړی) و (w∂ -د کړ بشپړوالي توک (augment)ګڼل کیږي.

**لومړی- پړک**

**نوماوړوني پایلې(Nominal endings)**

نومپایلې، چې په پښتو کې  د نوړی (جنس) ،ګڼې (افراد وجمع)، او پېر (حالت) توپیرونه یا رنګارنګۍ رابښيي او پر همدغو نومونو نومول کیږي. په کره لیکنۍ پښتو کې هر نوم  د همدغو درو ګرداني اړخونو پر بنسټ یو شمېر پایلې را خپلوي .

**١  :پړوکی**

**د نوړي (جنس) اړوندې نومپایلې**

دغه نومپایلې پر دوه (نرینه او ښځینه) ډلو وېشل کیږي :



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

## الف – نرينه (يوګړې) نومپايلې

۱ (صفر پايله، د هغه نوم پايله چې پر ببواک (کنسوننټ) پايته رسي، لکه: لاس، سر، تن، ځان،نس، ټتر،ګوګل،ورون، پټون،لړمون، ورمېږ،غړ، غوږ،ځوږ (زوږ، ورږ،ورور،تربور،ټغر،ور،کور،اور، لور،ټوپک، هلک، ورور، تربور... ؛

بېدوده، زياتر ښځينه خپلوانونومونه، لکه مور، خور، ترور، نندرور، نږور.

۲ (زورکی (∂-)، لکه: تره، وراره،زړه، لېمه،لېوه،؛بېدوده،لکه خوله،اوبه،وياله، اوړه، سره(طلا)،وربږه، غارمه، ساړه، واړه (واړه بندونه چې خېژي ،اوړي يا بې ځايه کېږي)؛ماسته، شوده (ګړدودي ځېلونه)،وياله،بلينده...، (وړانګه) هم ځينې ګړدودونه په زورکي پايته رسوي ،بې له دې چې د (اوبه،اوړه، نانځړه، نا ننږه يا نانګه)،په ځېر يې د نورږ نوم (اسم جنس) په توګه ډېرګړي وکاروي .

۳ (لنډ-و(u-) ،لکه:ټيټو،يابو،لاټو،بانو(د بانه څه ناڅه کره ځېل)،غورغوشتو (بنډا ري؛ عياش)،خېټو...،څو پورويونه (مستعار لغتونه)،لکه: کابو(مو قع،فرصت)، لَولُو،بابو،يا توركي(اُردو+پوځ) چې له ژبني نوم سره تکرېږي اوکم ازمېښته ليکو ال ورسره د ښځينه نوم چلند کوي،ان له مخې يې (ډيپو)هم همداسې انګېري او کا روي.

۴ (لنډه- ي :(i-) درزي، موچي،پنډي ياپلنډي،چړي،دوبي،ډاګي او نور چار نومونه يا ور هنيز (کسبي) نومونه؛ نشه وال او نشه رورږدي،لکه: چلمي،نسو اري،چرسي،بنګي، پوډري... هم همداسې درواخله.

همداراز،له زورکيوالې -یَ (∂y-) پرته پاتې ۹کره پښتو غبرګغږونه (ديفتانګونه) نرينه پايلې رغوي:

۵ (زوروالهٔ-ی :(ay-) سړی، ژوی، مړوی،اړيکی، همداراز اړيکنومونه (نسبتي نومونه): کابلی،کندهاری،بلخی،درانی،غلجی، ،ځاځی، تنی، دوتانی،مشوانی خوګيانی، کرلا نی،ګګيانی، ګمريانی...؛

۶ اوږد-و واله-ی(oy-) ، لکه: زوی، لوی، توی،ککوی (هدهد)؛

۷ لنډ-و واله ی :(uy-) خوی، بوی؛ د-وی؛

۸ زور+و :(aw-) کنډو، منډو،لَو، څو، پلو؛

۹- او:(ā w-) پړاو، جړاو، چړاو،تړاو ، کړاو،لګاو،نياو، ځاو (وړاندې مارش(!

۱۰ الف- واله-ای :(ā y-) ځای، پای، کالخو-ای، اشنای،بډای، خدای؛

۱۱ ېو :(ew-) لېو ،ډېو، رېو (ربب)ړ غرېو؛

۱۲ ي-و :(iw-) تريو، ډيو (دښتي مرغه)، ښايي، ډيو ډيوک او ټيوټيوکه ياککوَی (مرغ باران طلب) يې هممانيزونه برېښي...؛

بېدوده زور-پای او بيا زياتره د نرينه او ښځينه پورنومونو ګډه پايله ده، لکه: پوونده،بوده،څړه،خځنده،او بياپورهغه: ساده،لوده،شوده،بوله،ګُورَه. .. چې نرينه په←(-ګان)او ښځينه په -ګانې ډېرګړی کېږي.[۳-پېښويه ۱۰۴]

## ب- ښځينه نومپايلې

د زورکي (∂) او لنډ-و (u) پرته زياتره خپلواکپايلې،ښځينه نومپايلې بلل کېږي :.

۱-(زوَر(a-) ،لکه:خوَ له (عرق)،خوَله (کلاه)،پېنه،منه،پزه،غاړه، غېږه (غېږ)،لنډه (کو نغری (استخوان سجی،چاربند)، ګنډه، لېمه، سترګه، ځېږمه،سپله،وينه، تيږه، ډبره،پښه،ګوته، خېټه،ښځه،خورځه، وربږه،اسره، زرمينه، زرينه، پړخه، کرښه، ليکه، تياره، ډيوه، لمبه، پلوشه، بډه، وړا نګه؛غوړانګه، غورانګه غوړانځه يا خوړسکه (شعلهٔ دود آميز)، سپره، شمله، پانه، څانګه خرانګه، لښته، ونه غنه، او ښته، سرنښته (غرنیَ ونې)، ولږه، تنده، تبه، تنه، بډه، کډه، سپږه، ريچه، غنه، مږه، مېږه، وزه، ژرنده، کنده، ژوره...؛

ياغورځېدلې اوغورځېدونکې زوَر پايلې: لار، لېچ (لبخ)، مټ (مټه)،غېږ (غېږه)، غزل (غزله)،څنګل، منګول، نجل (کوژده يانامزاده نجلیَ)،غوجل، وندر، بکر، کچر،غاښور، کنډر، کنځل يا ښکنځل، وريځ، ږمنځ، ربېځ، ترخځ، کليز (تقويم) ترښځ...او ياهندي آرې پايله (-دار+مېرمن):ورېندار،ترېندار؛

بېدوده: مېلمه، کوربه، کډبه، غوبه، لېربه او نورچارنومونه (←وييپو هنه).

۲-(الف(ā-) ، لکه: ملا (کمر)، شا، خوا، تنا، رڼا، بربېښنا، ځلا، کلا، بېديا، غلا، تا لا، اړتيا، وينا، ژړا، خندا، ښېرا، سا، ويسا، لمبا، ورا، نيا، انا، ووريا، پښتيانا، هريوا، اوبستا، يسنا، سپنتا، ويدا، بلا، اشا...؛

بېدوده: لالا، دادا، اکا، کاکا،ماما، بابا او نور خپلوان نومونه. همدارنګه چارنو مونه اوپوروييونه: ملا، ميرزا، جولا،بورا، جليا،بېږا، لېنډا (پک)، بوډا، بډا، بوميا ....؛

۳ (اوږد-و(o-) ، لکه: پيشو، بيزو، شادو، ببو، کوکو، درخو، نازو، زانګو، پيکو، پېلبو، پيشپو، غرتو، ورشو، لامبو، سکالو، ښکالو، برو (باد ګرم)، للو، ښارو، پيانو،کانګو...؛



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاریَ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

همداراز یولږ ژبني نومونه: لکه پخپله پښتو، او نژدې پاميري-چترالي خور یې (ییدغو)، يو (تیرو) یا (تیراهي)،(گو جرو)،(هندکو) ورته پایله راخپلوي ،تر څنگ یې هرگوره ،د نورو ډېرو لرې نژدې خپلوانو ناخپلوانو ژبو پښتو هم نومپايله هم لنډه-ي ده، لکه: عربي، عبري، پارسي، بلوڅي، پراچي،اورمړي، واخي، کتي، وايگلي، پشه يي، گوري، براهوي انگرېزي، فرانسي، توركي، مغولي، چيني ، جاپا ني، سکیمویي، سهيلي . ...
بېدوده: نرینه کوشینومونه، لکه لالو، کاکو، بلو(بلال)، جمالو (جمال)...؛

۴ (اورده-ې (-e) ، لکه: ادې،ناوې، خورې (بوته یی مسهل)؛ولې (رینه)، خوره ولې (شیرین بویه).ښېځې هم زیاتره ډېرگړې کارول کېږي..؛ ښځينه نورنومونه (اسمای جنس) خو په هر ډول همداسې درواخله:لکه مستې، شودې، شرومبې، تروې... ؛

۵. لنډه-ي(-i) ، لکه: بیاتي، وداني، ښادي،دښمني،تربگني،خېښي،خپلوي...؛

۶ (زورکیواله-ۍ(-∂y) ، لکه: نجلۍ،بوډۍ، مرۍ ، ډوډۍ، ببرۍ، پيرۍ،نرۍ، بلۍ(بامبوته)،وړۍ، شرۍ، سنۍ(څنی)، اډۍ (کوراړی یاوور پتی)، ډۍ (توپ دنده)، کرۍ، تنۍ، کرۍ (از الات بافندگی)،بنۍ (دم آهنگری)،گډۍ (مسند؛ فا حشه)، بغرۍ، لولۍ،والۍ، مندرۍسترگۍ(عینک)، غوږۍ (گوشی،گوشک)، غوږنۍ (آله شنوایی)...؛

بېدوده، لکه نرینه چارنومونه: دوبي،موچي، پېدي یا پلندي، توپکي، سپايي، پوځي، جارچي، نايي (گلابي، دم)...؛

دويم- پړوکی: د گڼي اړوندي نومپايلي

گڼه (عدد) د بشپړ ډېری خپلوانو ژبو غوندې په پښتو کې د نوم یوگړی او ډېرگړی (مفردو جمع) راتوپيروي، په نورو ټکو، د گڼې له پلوه یو نوم یا یوگړی وي او یا ډېرگړي .

الف- نرینه ډېرگړې پایلي

(masculine plural endings)

نرینه ډېرگړي نښې یا پایلې د ښځينه هغو په توپير،د ځانگړو پایلو ترڅنگ دغه بدلون تر ډېره د یو روستاړي په مټ او څه ناڅه لهــ← منخپلواکونج +زورکي یا يلي سره ترسره کوي چې دغلته یوازې زورکی یوه نیمگړی او ناخپلواکه پایله را ښيي. نرینه ډېرگړې پایلې په لاندې ډول دي:

یو: بېواکپای یا صفر پایله والا نرینه نومونه دوه ډوله ډېرگړې پايلې لري:

۱- (ان) زیاتره د ساکښو نومونوډېرگړي پايله ده، لکه: هلکان،لویان،اوښان، پيلان او(۲) بېساچي تر ډېره (-ونه-una)پایله راخپلوي،لکه: کورونه،سیندونه،سبرونه، گلونه...؛بېدوده: ورونه،پلرونه،سپېداران یا آسونه دآسان اوگلان د (گلونه ) ترڅنگ .

۲-ونه (- una تر ډېره د زورکي پای نرینه نومونو ډېرگړي پایله ده،لکه: ترونه،وربرونه،زړونه، مېرونه،پسونه ...؛ بېدوده، لکه لېوان؛ بانه د کره (بانو) تر څنگ شمالختيځوال ځېل،ورته ډېرگړې پایله (-گان) راخپلوي،اوښتی پېر یې بیا (بنو) کوي، لکه :

.په بنو به درته لاره کړم جارو جارو جارو... (سېلاب ساپی)

۳- (وان(-wān) ،او تر څنگ یې لړوډېر (-گان)،د لنډ-و (u-)پای، نرینه نومونو ډېر گړي ړوونک ده،لکه:کدوان-کدوگان،ټټوان -گان،د یابوگان ترڅنگ، لاتو گان، ډیپوگان، او همداراز ←بانوگان...؛

۴- ي (-i) د زوروالهۍ یا غبرگږ پای (( ay-) نرینه نومونو ډېرگړي پايله ده، راخلي،لکه: سړي،وگړي،ژوي،مړوي، لرگي ... همداراز د(- ي) ترڅنگ -ونه (-una) پایله،لکه:خوريي -خوريیونه،ويي-وییونه،تي- تیونه؛ خو تر غويي یاغوا يي، (غويان) زيات دود لري او تری کره بربښي؛

۵- زوروالهۍ :(ay-) سړی، ژوی، مړوی،اړیکی، بېدوده یې اړ یکنومونه (اسمای نسبتی) دي چې -يان (-yān پایله راخلي، لکه: کابلی-کابليان،بلخی-بلخيان، کندهاری-کندهاريان، هېلمندی- هېلمنديان...؛y

۶ -ونه ( una-) د -ـو او -(aw- )او (-āw )غبرگغږ پای نرینه نومونو ډېرگړې پايله ده،لکه:لوونه،کندوونه،منډوونه،پلوونه؛کراوونه،پړاوونه،تراوونه جراوونه،چړا وونه؛ همداراز (oy-) لکه: تويونه،وربويونه،دويونه (قوانين) چې د وگړو په تړاو(-يان) پايله غوره کوي، لکه: ککويان (هدهدها)،سرغندويان، ساتند ويان،بولندو يان، څارندويان،څېړندويان...؛ او(uy-)غبرگغږ پای نومونه،هم ورته پايلې را خلي،لکه خويونه،بويونه ؛-ای (- āy) پای هغه بیا که بې ساوي،هم پر(-ونه) پا يته رسي،لکه : ځايونه، سرايو نه،گايونه (وييونه)...اوکه ساکښ وي،(-يان) پايله ترلاسه کوي، لکه:اشنايان،کالخوايان، بدايان ،خدايان؛ي-و (ew-) غبرگغږپای، لکه: لېوونه اودېو د سا کښ په توگه (-ان) پايله راځانگړې کوي؛ همدارنگه ي-و (iw-) پای هغه،لکه: ډېوان (ډيو يو دښتي مرغه دی)،خو (تريو) د يوه ستاينوم په توگه له زورکي پا يلې سره (منځ-خپلواک) هم راگډوي او (تروه) کېږي، لکه: تروه انگور چې يو گړدودي ځېل يې (تراوه) هم راځي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

۷- و نه +( una-) لنډ-و (u-) منځي نومونه د همدغه لنډ-و له غورځن سره ډېرګړي کوي،لکه:زنګون-زنګونه،ورون-ورننونه،پتون-پتنونه،پتلون-پتلنو نه،بدلون-بدلنونه یوم- یمونه،لرمون-لرمنونه...چې پروړاندې یې د منځن لنډ-و (u-)نه غورځن ناکره ډېرګړي بني رامنځته کوي، لکه: وروونه،پتونونه،پتلولونه... ؛ دغلته یو شمېر نور همجوله نرینه نومونه له منځ -خپلواکونج سره بیازورکیواله ډېرګړي پایله راخپلوي،لکه:پښتون-پښتانه، درون-درانه،ورون-ورانه غوبون-غوبانه شپون – شپانه... .[۳-پینویه ۱۰۱.]

۸- ګان، د بېدوده زور-پای او بیا زیاتره د ← نرینه پورنومونو ډېرګړي پایله ده، لکه: پوونده ګان،بوده ګان،خځنده ګان،ساده ګان،شاهزادګان،څره ګان یا جره ګان، لوده ګان، شوده ګان، خېله ګان،ګوره ګان...[۳-پینویه ۱۰۴ ]

ب- کره ښځینه ډېرګړي نومپایلي (feminine plural endings)

۱ -(ې (e-) د (a-) پای ځایناستي کېږي، نه داچې د سوېل-لوېدیځ د خجپوهنې تر اغېزلاندې راشي، لکه:
پڼې، منې، پزې، غاړې، لېمې، سترګې، ځېرمې، تیږې، ډبرې، ککرې، ګوتې، خورځې، ښځې،پرخې، پرښې، کرښې، ډیوې، لمبې، پلوشې، وړا نګې؛ غوړانګې، غورانګې، غوړانځې یاخوړسکې (شعلهٔ دودآمیز)...؛ غورځېدلې اوغورځېدونکې زوَر پایلې یوګړي ښځینه نومونه هم همداسې دروا خله، لکه: لارې، لېچې (لېخې)،غېږې، غوجلې، منګولې، ځنګلې، نجلې (کوژده نجونې)...؛

۲ - وې (we-) دالف (- ā) پای ښځینه نومونو، ډېرګړي پایله ، لکه: ملاوې ، شاوې، خواوې، تناوې، رڼاوې، برېښناوې، ګلاوې، بېدیاوې، غلاوې، بلاوې، روغتیاوې، ژړاوې، خنداوې، ښېراوې (ښېرې)، نیاوې یا اناوې (-ګانې)...؛ له دغو نورو سره(-ګانې) دومره خوندورې نه برېښي؛

۳ - و(we-) داوږد-و (o-) پای ښځینه نومونو ډېرګړي پایله چې د څیزونو او ښکار ندو لپاره راځي، لکه: زانګووې، پیکووې، پېلبووې، پیشپووې، لامبووې، سکالو وې، ښکالووې، برووې (بادګرم)، للووې...؛او شمال ختیز ګړدودې ځېل (-ګانې) یې له ستایلېستیکي پلوه دومره پرغوږ ښه نه ګي او یوازې د ژوبو لپاره په زړه پورې راځي، لکه: ښاروګانې، پیشوګانې، بیزوګانې، شادوګانې، ببوګانې... ؛

۴- یندې-(yánde-) د ناکره کندهارې ځېل(-ندې-ندې) او په تېره (-انې-ګانې) تر څنګ-د (-ر) بېواکپای ښځینه خپلوانو ډېرګړي پایله ده،هغه هم له ډېرکارونګ سره د غبرګو بېواکو (-ور) له غورځن سره، لکه: میندې، خویندې،تریندې، ندر یندې،نږیندې؛لا بېدوده ځېل (نې) یې،لکه په لور-لونې او یور-یونې کې د تار یخي یادایکرو نیکې بدلنونو زېرنده بلل کېږي. [۳-پینویه ۱۰۸ ]

۵ - لنډه-ي .(i-) لکه: بیاتي، وراني،وداني، ښادي،ناروغي، رنځوري،دښمني، تربګني،دوستي، خپبني،خپلوي...؛ بېدوده، لکه نرینه چارنومونه: دوبي، مو چي،پنډي یاپلنډي،توپکي،سپایي،پوځي،جارچي بنداري، نایي،ګلا بي (ډم)... .همداراز نشه یان: بنګي،چرسي،چلمي،شرابي،پوډري او نور بدورده. ښځینه ←کوشیننومپایلي له نرینه هغو سره څه ناڅه یو راز او برابرې دي او یوازې نوږیز توپیر ورسره لري،لکه: کوکو، ببو،زرکو، خورو. ...

۳ -پړوکی

درېیم: پېر نومپایلي(nominal case- endings)

نومپېر [← پښتوپښوییزپېر یا نومپېرونه ] په دې مانا چې یو نوم په خپل چاپېر یال (غونډ او غونډ له کې) څه بڼه لري.له دې پلوه نومپېر له آره یوه غونډله پوهیزه (نحوي) سکا لو ده او له ګړ پوهیز (صرفي) پلوه له دې لامله پاموړ ده چې د نوم له درو ګرداني اړ خو څخه یوه خورا ډېراړخیز اړخ (aspect) او بیا← اېرګا تیف بلل کېږي یانې بېلابېلو نومډلو ته بېلابېلې او ښتې بنې وربښي،لکه: (زمري) هېندوا نه وخو ړه؛ زر ینې ختکی وخوړ.[ ۳-پینویه ۹۲-۹۵]

پښتونومپېر پایلې د نورو ډېرو نژدې لرو هندواروپایي خپلوانو ژبو په څېر دوه ډوله دي: (رښتیني) او (سربلي) پایلي چې لومړی یې رښتیني دا تر څېړنې او سپړ نې لاندې نیسو.

لومړی: رښتیني اوښتې نومپېر پایلي
)The real nominal case- endings(

رښتیني تاریخي اتګوني هندواروپایي نومپېرونه چې په (سانسکرېټ، یوناني، لا تیني...) ژبو کې بېځرک لګېدلی ،نن سبا له روسي او نورو سلاوي ژبو پرته، په نورو اوسنیو ژبو کې نیم نیمګوري پاتې دي. رښتیني په دې مانا چې له نوم یا یې ستې سره د صرفي- نحوي چار(کړن) په مټ اوښتې پېرپایله سیده روستاړی کېږي، پایې راخپلوي، بې له دې چې په اړوند چاپېریال (غونډ، غونډله یا متن) کې ورسره نور سرباري توکي(وییونه ،وییکي...) برخه واخلي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

پښتوپه دې لړکې له نوموړو  تاریخي اتګونو پیرونو څخه درې پیړه یوځه ژوندي ساتلي دي:کړندپېر)فاعلي حالت (nominative،لنډکړی پېر) بېواسطه مفعولي حالت( accusative، بلنپېر) ندايي حالت .(vocative
۱-کړند پېر (nominative) چې دا پېر موږ تش په اېرګاتیف (ergative) سېستم کې سهي کولای شو، په دې مانا چې  په تېرمهال کې یو لېږند (متعدي) کړ د کړند نه، بلکې دکړي (مفعول) له مخې ګردانېږي او مفعولي پایله راخپلوي، خو ترسر وونکی یا مرجع یې بیاهم (کړند) بلل کېږي اوبیا له اوښتي پېرسره، لکه :
(زمري ) مڼه  وخوړه؛ (پلوشې) اناروخوړ؛ یاد وګړي پرځای اړوندنومځری ورته
اوښتی پېر راخپلوي: (ما)  مڼه وخوړه؛ (تا) انار وخوړ؛ (ده) کاروکړ،(دې)  ډوډۍ پخه کړه. ...
۲ -لنډکړي (بېواسطه مفعول) پایله(accusative) ، موږ د دغه پېر یوازېنی څرک د وسمهال کړاوړون  په اړوندو دوو نومځرو (ما) او (تا) کې  اېستلی، لکه:    زمری (ما)  وهي، زرمینه (تا) وهي؛ دغلته (زمری) او (زرمینه) دواړه د وهنې ترسر وونکي یاکړندان (فاعلان) دي په بله وینا،(ما)او (تا) لنډ کړیان  ( بېواسطه مفعو لونه ) دي چې آرپېرونه یې (زه)او (ته) دي؛ دلته کولای شو،د(زمری) پرځای هم نا وښتی نومځری ( دی) وکاروو او د (زرمینه) پرځای ناوښتی (دا) ، لکه (دی) ما وهي او (دا) تا؛ په نورو ټکو، (ما-تا) له (اېرګاتیف) سېستم سره سم  په تېرمهال کې کړندپېري ( nominative) دي،بې له دې چې کړپایله ورپورې اړه ولري او د (اېښي) دریځ ترلاسه کړي،خو په وسمهال کې هماغه (ما-تا) بیا (accusative)دي په بله وینا،(لنډکړی پېر) راخپلوي!
۳ -بلنپېر)  ندائیه حالت  (vocative پښتو بیا په بشپړ ډول د نوري (جنس) او ګڼې له پلوه له نومېرلو او جوتو (ثابتو) پایلو سره له نه اټکلېدونکي مهاله خوندي سا تلی دی.  هرګوره، دویم یا نارښتیني ((←سربلي))  پېرونو  په لړکې به یې بېلابېل ډولو نه او پایلې وړاندې شي.
دویم: نارښتیني یا (سربلي) پایلې(pre-positional endings)
سربلي (pre-positional) ، وستربلي (post-positional ) یاغبرګبلي (ambi-positional) پایلې یا پېرنښې چې د رښتینو تاریخي اتګونو پېرونو پاتې نور پېنځه پېره،لکه: لرکړی پېر(dative) ، لا ملپېر (- instromentative)، تونپېر...(locative) سکینده (جبیره) کوي.[۳ -پښويه ۱۰۱-۱۱۲]
الف- نرینه اوښتي سربلي نومپېرپایلې
په دې روسته بېلګو کې :
۱- (ي (i-)  چې آرپېر (نرینه) پایله، کټ مټ لکه ډېرګړې هغه یې (-ي) ده: سړی-سړي،ژوی-ژوي، روی-روي،وری-وري،وَری-وري، مېږی-مېږي،سورلنډی-سورلنډي، تندی-تندي...؛
۲- (زورکی (ə) چې آره (نرینه) پایله یا نښه یې یو بېواک (-کنسوننټ) دی، په بله وینا،بېواکپای نرینه نوم دی- له لږوډېر منځ-خپلواکونج (- ā -) سره،بې خپلواکو نجه زورکي  اوښتي پایله، لکه:  ځنګله (ناکره: ځنګاله)، خر-خره،غوبل-غوبله، تر بور-تربره، مل-مله، غل-غله...؛ له خپلواکونج سره، لکه: ور-وره،کوږ-کاږه (کفتار)،سور-سره(əsr) ، تول-تاله،یوُم-یامه،شپون-شپا نه، پښتون-پښتانه، لړمون-لړمانه،ورون-ورانه،پټون-پټانه،یون-یانه، کوربه-کوربا نه، کوڼ-کاڼه، ړوند-ړانده؛ ووړ-واړه، موړ-ماړه،زوړ-زاړه، خوږ- خواږه،تریخ-ترخه(تراخه)، تر یو (تراوه)،زیږ-زږه یایې ناکره (زیږه،زاږه)-الف-منځې ستانومیزې اوښتې پایلې، له دویوالي (باقاعده والي ) سره سره یوازې پېښورخواته خوندي پاتې دي، نو د (لېږي آر) یا (اقلیتي اصل) له مخې ناکره ارزول کېږي [ پښويه ۹۲-۹۶]...؛
هر ګوره، په دغه لړ کې(کاله)  د کهول) له اوښتي بڼې (-کهاله) سره بشپړ هممانیز اوهمچاریز نه،بلکې  په منځني ساکي پېرکې د "کولا" =کور،کهول) [← استاد حبیبي: لویکان].یوپاتشو نی دی او په اوسنۍ پښتو کې په همدې یوه یوازېنۍ بڼه یې، له(کور) سره تش د اوښتي پېر له پلوه  همچاری ،او په همدغه تړاو، څه ناڅه هممانیز ګڼلای شو، نه د نورو نوماوړوني اړخونو له پلوه ، لکه په دې جوړه جوړه غونډلو کې: (۱) زه (کورته ) ځم = زه (کاله ته)ځم؛ (۲) زه (له کوره) راغلم= زه (له کاله) راغلم ؛(۳) ته (په کور کې) یې = ته (په کاله کې) یې ، همداسې (پرکور= پرکاله) ، (ترکوربهر= تر کاله بهر)...  خو هېڅکله نه ویل کېږي: دا (کاله) دی)، دا (کاله) لوی دی) او داسې نور.
ناوښتوني یا کم اوښتوني یوګړي نومونه (پښويه ۹۵)
کره لیکنۍ پښتو داسې ګوتشمېر نرینه اوښځینه نومونه لري  چې په یوګړې بڼه، د اتګونو(پېرونو) -او یو نیم ان د(ګڼې) هم نه اړوندېږي: نه روستاړی را خپلوي او نه  ←منځ خپلواکونج(Ablaut) ، بلکې پرخپله آره بڼه پاتېږي :
۱- (الف (ā-) پای نرینه او ښځینه نومونه، لکه: ملا،مُلا، شا، خوا، بېړا، تنا، دا دا، کاکا،اکا،ماما،لالا،رښتیا، تنا،برېښنا،رڼا،ځلا، ورا،پښتیانا،پښتونخوا، پکتیا،هریوا،اوېستا،یسنا،سپنتا،یما،کنېشکا،آریا،آریانا، الینا،اسیا...؛


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځير و لولـئ

۲ (زور-aپای، لکه: ډاډه (مطمین)،ډاډه (بریان) چې له آره د جوارو وریتو وروو او د وریتوني کړن) ته وایي،شاهزاده،ستانه،سیانه،ساده،څړه (جره؛پلی)،بوده، پو ونده،شوده،بوله، ښایسته،مېلمه ،کوربه،غوبه،لېربه،لاربه، کډبه...؛
۳ -زورکي-پای نرینه نومونه، لکه: تره، وراره،نیکه،زړه،مرغه،واده...؛
۴ -اوږده-ي (e-) پای ښځینه نومونه،لکه:ادې،ناوې،ولې (ریښه)،خوږه ولې (شیرین بویه)،نازولې...؛
۵- ۍ (∂y-) پای ښځینه نومونه، لکه: نجلۍ،لېونۍ،سپوږمۍ،شینکۍ،بدرۍ، ډوډۍ،شړۍ،څوکۍ،بغرۍ،ببۍ... خورۍ دکوشیننوم په بڼه د(همشېره-نرس) یو غوره انډول هم دی.
۶ - و(o-)پای ښځینه نومونه،لکه: ببو،برو، زانگو،پېرزو،بیزو، شادو،پیشو، ښا رو،ابو،ببو،درخو،شیرینو، نازو، زانگو، پیکو،پېلبو، پیشپو،لامبو، سکا لو، ښکالو،برو (باد گرم)، للو، ښارو...؛ یولړژبني نومونه: لکه پخپله پښتو، او نژدې پامیري-چترالي خور یې (یېدغو)،(تیرو) یا (تیراهي)،(گو جرو)،(هندکو)؛ همداراز یو لړنرینه اوښځینه کوشیننومونه،لکه:خالو، بلو،گلو،جمالو، بدرو، خورو...؛
دویم- پړک
کړاوړوني پایلې(Verbal endings)
دا پایلې هم د نوماوړوني پایلو غوندې زیاتره څېپیزې یا دیفتانگي بڼې لري او یوغړیزې یا یو واوېلي هغه یې لړکۍ برخه جوړوي. دغه اوړوني پایلې د گڼې(number) ، وگړي(person)، نوږي(gender) ،اړخ (aspect)،دود (mood) ، مهال (tense) او نور توپیرونه را پر گوته کوي او په همدغو نومونو نومول کېږي،چې د اېښي(مسندالیه) له پلوه پر بېلابېلوډولونو وېشنه مومي او سم له لاسه یې دغلته له دوه دوه بېلگو سره درپېژنو.
یَوم: گڼیزې (یوگړې او ډېرگړې) کړ پایلې (singular-& plural verbal endings) numeral چې دوه ډوله راخلي: نرینه کړپایلې، لکه: ماوخوړ-/وخوړ-ل؛او ښځینه نومپایلې،لکه: وخوړ-ه/وخوړ-ې،مانا یې داچې کړپایلې یوازې په تېرمهال اوړون کې توپیرېږي، نه په ناتېرمهال کې.
دویم: وگړپایلې (personal endings) درې ډوله دي: لومړۍ وگړپایلې، لکه:
زه خور-م/ موږ خور-و// دویمې، لکه:ته خور-ې/تاسې خور-ئ ؛او درېیمې ،لکه: دی-دا-دوی خور-ي. ...
درېیم: نوږپایلې (gender endings) دوه ډوله ده:نرینه، لکه: ماوخوړ-۰/ وڅښ-ه اوښخینه، لکه:ماوڅښه-ه/وڅښ-له...
څلورم: لېږندونالېږندکړ پایلې :(transitive-and intransitive or voice en- dings) لېږندکړپایلې، لکه: ماوکښ-ه/ زه کښ-م//نالېږند،لکه: زه راغ-لم/ ځ-م
پینځم: اړخپایله(aspect ending) دوه رازه ده:بشپړکړپایله (perfect ending ) چې تر ډېره یو زورکی یا صفروي، خو هممهاله ورسره د اړوندکړ په سرکې بشپړ اند-و (w-) یا (augment-w∂)—←مختا ړی کېږي، لکه (ما) و-خوړ// نابشپړ یا استمراري کړپایله (ending imperfect) چې داهم په تېرمهال کې تر ډېره یو زور کی وي اوپه یونیم یوگړي کړکې ورسره ترخپلواک او منځ -خپلواکونج ورترغاړې وځي،لکه غځاوه،خواړه...او پر وړاندې یې ډېرگړې نا تېرمهالي پایله بیازیاتره (-ل) او (لې-) وي،لکه ماختکې پېر-ل / ما هېندواني پېر-لې؛
د ناتېر مهال بشپړ یا په سهي تخنیکي نومَونه (التزامي) وسمهالکړ پایله هم پر خپل وار د بشپړاندیامطلق (و-) له مختاړۍ سره تر ډېره یوواوېلي وي،لکه: وخور-م /وخور-و//وخور-ې / وخور-ئ ؛
په دې ترڅ کې نابشپړ (استمراري) او روږدني (اعتیادي) ناتېرمهالکړپایله تر گردو لېږندو-نالېږندو کړاوړوني پایلو ساده باده ده. داسې چې د دویم ډېرگړي وگړپایلې پرته د نورو ټولو وگړو هغه یو واویلي ده، لکه: خور-م/خور-و//خور-ې/ خور-ئ//خوري...؛ یانې یوازې لومړی یوگړی پایله له ترخپلواک سره بېدودي رامنځته کوي،لکه په خور-م یا کو-م کې؛ مهالپایله ( tense-ending) چې دوه رازه ده: تېرمهالي پایله او ناتېر مهالي پایله (—← گرداني بېلگې)؛
د اړخ (aspect) په لړکې تر لېږند ونالېږند روسته،چاروال (active voice) کړ پایله،لکه په پاسنیو بېلگو کې، او بېچار (passive voice) کړپایله بیا، له غور ځېدلي پای- خپلواک بېچارکړستاینوم (passive particip) سره د مرستیالکړ (شو-کېدل) دگرداني بڼې په منځتاړۍ د وگړیزې پایلې په توگه راڅرگندېږي، تېرمهالي،لکه:وخوړل-شو-م/وخوړل-شو...؛ خوړل-شوی- یم/ خوړل-شوي-یو//خوړل-کېد-م/خوړل-کېدو...؛
ناتېرمهالي، لکه:خوړل-کېږ-م/خوړل-کېږ-و//وبه خوړل-ش-م/وبه خوړل-ش-و... ددې مانا داشوه چې بېچارې کړپایلې له چاروالو هغو سره همغږي لري او پر همدې پېژند او بېلگو یې بسنه کوو.
دودپایله( mood-ending) چې داهم دوه رازه ده :



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

۱) خبري پایله (indicative ending) چي تر ډېره د يوه خپلواک په بڼه وي؛ او(۲)ناخبري (پايله (subjunctive-ending)چي يوه يوازېنی ګډه ديفتانګي پايله

(-āy)د ټولوناخبري ډولونو،لکه: غوښتني، تواني،ګوماني،ارماني،هيښني اړوتي (شرطي)... لپاره را څانګړې کوي،په بېلګوکې :

(ما-تا-ده-دي-دويو) وخوړ-ای،وکړای، راغل-ای ياراغلای... ؛په دې لړکې د بشپړ(perfect) او نا بشپړ (imperfect)کړپايله بياد روستاړي پرځای په يوه مختاړي (و-)اوياغبرګو روستاړو(وبه-) جوړېږي،لکه: راغلی به وي ؛شرطي مختاړی (که) وييکی او مرستيالکړ روستاړی (-ول)، لکه: که راغلی وی

او ګوماني کړ پر خپل وار غبرګي پايلي (به + ول) هم بيارا خپلوي،لکه:

همداراز ارماني کړ پر (-ای) پايلي سربېره کاش يا کاشکي وييکی خپل مختاړی کوي ،لکه. ...:

هرګوره،ورمندي (امري) او پوښتني پايله چي له پښوييز دويي (قاعدې) پلوه يوا زې په ناتېرمهال کې، هغه هم تش د دويم وګړي (مخاطب) لپا ره راځي، له اړو ندي وګړيزي پايلي سره همغږي لري؛ امري پايله په ليکني بهير کي له بلنښې (!) او په ګړني هغه کي له څانګړي پيل زور-خج، اهنګ او غاړې (لحن) سره پېژندل کېږي، لکه: وکښه!/وکښئ ! او همداراز پوښتني دابيا په ګړني بهير کي له څه نا څه ورته نازنځيري غږونو،خوپه ليکني هغه کي له پوښتنښې نښې(؟) سره جوتيا او توپير مومي،لکه: چېرې ځ-ې/ چېرې ځ-ئ؟[۳-پښويه ۱۵۵-۱۵۸]

د دې ماناداڅې د دواړو کړونو پايلي له نورو سيالو وګړيزو پايلو سره کوم توپير نه راښيي او زموږ په ټوليزو پايلو کې کومه زياتونه نه راولي.

بشپړ او نابشپړ کړ ډولونه

| | تېر مهال | بشپړ+التزامي | روږدنی بشپړ | نابشپړ | روږدنی نابشپړ |
|---|---|---|---|---|---|
| لېږند (متعدي) | | (کړند) بوت | - به بوت | - بېوه | - به بېوه |
| | ناتېرمهال | - بوځم | - به بوځم | - بيايم | - به بيايم |
| ناليږند (لازمي) | تېرمهال | - راغلم | - به راغلم | - راتلم | - به راتلم |
| | ناتېرمهال | - راشم | - به راشم | - راځم | - به راځم |

**۱۴ - د (نفي يا نهې) توک ((نه))، يا ((مه)) .**

**۱۵- بشپړ توک (و-) مختاړی.**

**دادی، دلته دغه د کړ ۱۵** ګوني ګرداني توکي او اړخونه د يوکړوال غونډ

((را ونه ګرځوله)) په شننه کي نبنه کوو←پښويه **۱۴۹-۱۶۳:**

| را- | -و- -wə | نه | ګرځ- | -و -aw | تر -ə- | -ل-ه (a) |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۱۵ | ۱۴ | ۲ | ۶-۷-۸-۱۳-۵- | ۴ | ۱۲-۱۱-۱۰-۹ |
| | | | | ۳ | | |


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ